# حَسْبُنَا الله

(يعنې مونږ له الله کافي دے)

01-August-2024



هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(for Islamic Brothers)

پهٔ ورېومبي 1 اګست کال 2024ء (25 مُحَرَّم شريف، 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# حَسبُنَا الله (يعنې مونږ له الله کافي دے)

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ___ يوه نيکي څلور انعامونه
- ___د نا بينا مرغۍ تَوَکُّل
- ___ د هر مشکل نه د نجات وظيفه
- ___ د نبيانو، وليانو نه مدد غوښتل څنګ دي...؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف

(**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

صحابئ رسول حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: د یو ځل واقعه ده چې د سحر په وخت د الله پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور نه په ډک مخ باندې د خوشحالۍ آثار وو، صحابهٔ کرامو علیهمُ الرِّضوَان چې د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: الله پاک پیغام راليږلے دے: اے محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستا چې کوم اُمَّتي په تاسو باندې یو ځل درود ولولي، زۀ به د هغهٔ د پاره 10 نیکۍ لیکم، د هغهٔ 10 ګناهونه به ختموم، 10 درجے به ورله اوچتووم او هم دومره رحمت به پرې ليږم. (1)

اُن پر دُرود جن کو کسِ بے کساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے (2)

**وضاحت:** هغه خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا ته چې د بے وسو ملاتړ وئيلے شي، ځوک چې د هر بے خبره خبر لرونکے دے، په هغوئي باندې دې درود او سلام وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... مُسْنَدِ اَحْمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات** د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ [(1)]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د اللہ پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!  صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## یوه نیکي، څلور انعامونه

د غزوهٔ اُحُد د وخت خبره ده، حضرت اَبُو سفیان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ څوک چې عظیم صحابئ رسول دے، هغوئي د فتح مکے پهٔ موقع باندې اِسلام قبول کړو، د غزوهٔ اُحد پهٔ وخت هغوئي لا مسلمان شوے نه وو، د غیر مسلمو پهٔ صف کښې وو، نو د غزوهٔ اُحُد پهٔ وخت ابو سفیان رسولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته غږ وکړو چې راتلونکي کال له به د بدر پهٔ میدان کښې زمونږه او ستاسو جنګ وي۔ آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جنګ دا اعلان قبول کړو۔ د دې نه پس ابو سفیان او د هغهٔ لښکر مکے مکرمې ته لاړو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم سره مدینے منورې ته واپس تشریف راوړلو۔

پهٔ دې کښې یو کال تیر شو۔ دلته ابو سفیان او د مکے والا هم د جنګ تیاري کوله او هلته خوږ آقا مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم تیار وو۔ چې کله د وعدے وخت راغلو نو خدائے څهٔ داسې وکړل چې د ابو سفیان او د هغهٔ د لښکر پهٔ زړهٔ کښې رَبِّ کریم ویره واچوله۔ بیا هغهٔ غوښتل چې پهٔ څهٔ طریقه باندې دا جنګ اونشي او

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

مونږ واپس مکے ته لاړ شو خو د بزدلۍ سره واپس کیدل د هغۀ خوښ نه وو۔ نو ابو سفیان یوه منصوبه جوړه کړه، نُعَیم بن مَسعُود ځوک چې د یوې بلې قبیلې وو، مکے مکرمې ته راغلے وو، ابو سفیان هغۀ له لالچ ورکړو او اوئې وئیل چې ته مدینے ته لاړ شه او د مسلمانانو په زړونو کښې ویره واچوه او هغوئې په څۀ چل وَل د جنګ نه منع کړه۔

نو نُعَیم بن مَسعُود مدینے منورې ته لاړو، صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم هٰغه وخت د جنګ تیارې کوله، نُعَیم هغوئې ته ووئیل: اے مسلمانانو! تاسو د جنګ د پاره مۀ ځئ! مکے والؤ ستاسو د پاره غټ لښکر تیار کړے دے، که تاسو بدر ته لاړئ نو په تاسو کښې به یو هم واپس بچ نه راځي۔

نُعَیم بن مَسعُود خو غوښتل چې مسلمانان ویروې خو **سُبۡحٰنَ الله!** د هغۀ د خبرو سره د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم جوش او جذبه نوره هم زیاته شوه، هٰغه د اوچتې مرتبے خلقو د ایمان نه په ډکه جذبه کښې ووئیل:

وَنِعۡمَ الۡوَکِیۡلُ ﴿۱۷۳﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مونږ له الله کافي دے او [هغۀ] څومره ښه کار سازے دے۔

(پاره:4، ال عمران:173)

یعني اے نُعَیم! تۀ مونږه د چا نه ویروې--!! مونږ منو چې ❀ ستاسو سره لښکر دے ❀ د جنګ سامان دے ❀ ډیر طاقت دے--!! خو یاد ساته! ❀ الله پاک زمونږ سره دے ❀ د الله پاک رحمتونه زمونږ سره دي ❀ د الله پاک مدد او نُصرت زمونږ سره دے، لہٰذا که تۀ هر څومره غټ لښکر راولې! مونږ د هغې نه هیڅکله هم نه ویریږو، **زمونږ د پاره د الله پاک مدد کافي دے۔**

نظر الله پہ رکھتا ہے مسلمانِ غَیُّور | موت کیا شے ہے فقط عالمِ معنٰی کا سَفَر

**وضاحت:** یعنې غیرت مند، پوخ ایمان والا مسلمان د مرګ نه نهٔ ویریږي، د هغهٔ نظر د الله پاک پهٔ رحمتونو باندې وي، د هغهٔ د پاره مرګ د یو جهان نه بَل جهان ته سفر دے او بس۔۔!!

صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم نُعَیم بن مَسعُود ته دا جواب ورکړو او خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدر ته تشریف یوړلو۔ هلته خو د ابو سفیان او د مکے د غیر مسلمو پهٔ زړونو کښې ویره پیدا شوې وه، هغوئي نهٔ راتلل او نهٔ بدر ته راغلل۔ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم پهٔ بدر کښې ښه تجارت وکړو، ګټه یې وکړله او پهٔ خوشحالۍ خوشحالۍ واپس راغلل۔ دې واقعې ته **غزوهٔ بدر صُغرىٰ** وئیلے شي۔ (1)

د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم د دې ایماني جذبے پهٔ صِلِه کښې الله پاک هغوئي ته 4 انعامونه عطا کړل، ارشاد کیږي:

فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ فَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ ۙ وَّ اتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ (۱۷۴)

(پاره:4، ال عمران:174)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا هغوئي د الله د احسان او فضل سره بیرته راغلل، هغوئي ته هیڅ تکلیف اُو نه رسیدو او هغوئي د الله د رضا تابعداري وکړه، او الله لوئي فضل والا دے۔

**(1):** یو انعام خو دا وشو چې د هغوئي د الله پاک نعمتونه نصیب شول چې هغوئي پهٔ بدر کښې ښه ډیر تجارت وکړو او مال یې وګټو۔ **(2):** دویم انعام دا وشو چې پهٔ هغوئي باندې د الله پاک فضل وشو، مکے والا د ویرې له وجهې بدر ته رانغلل،

---

1 ...خازن، پاره:4، آل عمران، زیرِ آیت: 172، جلد:1، صفحه:321، 322 ملخصاً۔

**(3):** دریم انعام دا وشو چې هغوئي نۀ جنګ وکړو او نۀ ورته څۀ ځاني او مالي نقصان ورسيدو او **(4):** څلورم او ډير اهم انعام ورته دا ميلاؤ شو چې د هغوئي د الله پاک رضا نصيب شوه کوم چې د دواړو جهانونو د ټولو نه لوئي نعمت دے۔ [1]

کیوں کر نہ میرے کام بنیں غیب سے حسنؔ | بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا[2]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د ايمان نه پۀ ډکه قرآني واقعه باندې غور وکړئ چې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہ عَنۡہُم ايمان څومره پوخ وو، د دې خوش قِسمتو به ايماني جوش څومره زيات وو او پۀ هره يوه معامله کښې به يې پۀ الله پاک باندې تَوَکُّل (يعني يقين) کولو، د هغۀ پۀ رحمتونو باندې، د هغۀ پۀ عطاګانو باندې، د هغۀ پۀ مدد باندې به يې يقين کولو، بيا به ورته پۀ نتيجه کښې څۀ ميلاويدل؟ الله پاک به هغوئي ته پۀ هر ميدان کښې کاميابي عطا کوله۔ راځئ چې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہ عَنۡہُم د دې تَوَکُّل او پوخ ايمان يوه بله واقعه واورو:

## پۀ درياب پۀ آسونو باندې پورې وَتَل...!!

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہ عَنۡہُ خلافت وو، عظيم صحابئ رسول حضرت سَعد بن ابي وقاص رَضِیَ اللّٰہ عَنۡہُ د اِسلام د لښکر سره مختلفې علاقې فتح کولې، پۀ دې کښې هغوئي **بَهُر سِير** نومې يو ښار ته ورسيدل او هغه يې پۀ ګيره کښې واخستو۔ د دې ښار فتح کولو د پاره د دجله پۀ درياب پورې وَتَل ضروري وو۔ نو غير مسلمو د خپل ښار بچ کولو د پاره دا منصوبه جوړه کړه چې ټولې کشتۍ يې پۀ خپله ولقه کښې واخستې د پاره د دې چې مسلمانان پۀ درياب نۀ راپورې وځي او ښار ته نۀ رارسي۔ حضرت سَعد بن ابي وقاص رَضِیَ اللّٰہ عَنۡہُ چې کله

---

1...خازن، پارہ:4، آل عمران، زیرِ آیت:174، جلد:1، صفحہ:323 ملخصاً۔

2...ذوقِ نعت، صفحہ:18۔

دغه ځائے ته ورسیدو، کشتئ یې ولټولې خو یوه کشتئ هم میلاؤ نه شوه۔ بیا پریشاني وه چې ښار هم فتح کول دي، پۀ دریاب هم پورې وَتل دي، کشتئ هم نشته، اوس به څۀ کوؤ۔

پۀ دې وخت کښې د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پۀ ذهن کښې یوه منصوبه راغله، هغوئي ټول لښکر راجمع کړو او اوئې فرمائیل: اے خلقو! ووایئ---!! نَسۡتَعِیۡنُ بِاللّٰهِ وَ نَتَوَکَّلُ عَلَیۡهِ، حَسۡبُنَا اللّٰهُ وَ نِعۡمَ الۡوَکِیۡل مونږ د الله پاک نه مدد غواړو، پۀ هغۀ باندې یقین کوو، مونږ له الله کافي دے او هغۀ څومره ښه کار جوړوونکے دے۔ **دا ووایئ او اَسونه دریاب ته کوز کړئ---!!**

ټول لښکر د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اطاعت وکړو او حَسۡبُنَا اللّٰهُ یې ووئیله او اَسونه یې دریاب ته کوز کړل۔ راوي وائي چې **پۀ الله پاک مې دې قسم وي! پۀ هغه ورځ باندې یو کَس هم پۀ دریاب کښې ډوب نشو، ټولو د دریاب سینه وشلوله او بَلې غاړې ته ورسیدل۔** چې کله غیر مسلمو دا منظر ولیدو نو غږ یې وکړو چې دیوان راغلي دي، دیوان راغلي دي۔ پۀ خدائے باندې مو دې قسم وي چې د دې خلقو سره څوک انسان جنګ نشي کولے، د دوئي سره خو هم پیریان جنګ کولے شي۔ [(1)]

**پۀ روایتونو کښې دي:** اِسلامي لښکر چې کله پۀ دریاب باندې پورې وتلو، هٰغه وخت حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره یو ځائے روان وو، پۀ دې ټوله لاره باندې د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پۀ خُله مبارکه باندې هم دا یوه کلمه وه: حَسۡبُنَا اللّٰهُ وَ نِعۡمَ الۡوَکِیۡل مونږ له الله کافي دے او هغۀ څومره ښه کار ساز دے۔ دا یې

1 ...تاريخ طبری، جلد:2، صفحه:460 بتصرف۔

چې واوريدل نو حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ووفرمائيل: واه...!! څومره ښکلې شان دے...!! تر اوسه پورې اِسلامي لښکر زمکه د ښپو لاندې راوستې وه، اوس يې د درياب سينه هم شلولې ده۔ (1)

دَشت تَو دَشت ہیں دریا بھی نہ چھوڑے ہم نے | بحرِ ظلمات میں بھی دوڑا دیئے گھوڑے ہم نے(2)

**وضاحت:** يعنې اے رَبِّ کريمه! ستا د دِين د پيغام عام کولو د پاره ځنګل خو ځنګل دے، مونږ دريابونه هم نه دي پريښودي، بحرِ ظلمات (بحرِ اَوقيانُوس يعنې Atlantic Ocean) کښې هم مونږ آسونو له منډې ورکړلې!

**سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا څومره ايمان تازه کوونکې خبرې دي، د ايمان جوش زياتوونکي واقعات دي، د دې واقعاتو د لوستلو سره، اوريدو سره د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم د ايمان د جوش پته لګي، لږ سوچ وکړئ چې دې د اوچتو مرتبو حضراتو به پهٔ الله پاک باندې څومره يقين لرلو...!! پهٔ ظاهره د کاميابۍ څهٔ لار پهٔ نظر نه راځي، پهٔ درياب باندې پورې وتل دي، پهٔ درياب پل نشته، کشتۍ ورسره نشته، درياب پهٔ موجونو دے خو د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم د ايمان جوش د دغه چپو جوش هم کښينولو او د درياب سينه يې وشلوله او پورې وتل۔

ارادے جن کے پختہ ہوں، نظر جن کی خُدا پر ہو
تلاطُم خیز موجوں سے وہ گھبرایا نہیں کرتے

**وضاحت:** د کومو خلقو چې د الله پاک پهٔ رحمت باندې نظر وي، ارادے يې پخې وي، بيا هغوئي د مشکلاتو هيڅ پروا نه کوي او نهٔ د هغې نه ويرېږي۔

---

1...تاریخِ طبری، جلد:2، صفحه:461۔
2...کلیاتِ اقبال (اردو)، بانگِ دار، صفحه:193۔

## آہ... ايمانونه کمزوري شوي دي

آه! افسوس! نن ايمانونه کمزوري شوي دي، چرته هٰغه کامِل مسلمانان څوک چې به لوئي لوئي طاقتونو هم نشو ويرولے او چرته اوسني مسلمانان څوک چې په معمولي پريشانئ باندې هم حوصله بائلي ❁ چرته هٰغه د اوچتې مرتبے والا چا چې به د غتو غتو طوفانونو مقابله په يواځې کوله، چرته اوسني مسلمانان څوک چې په معمولي مصيبت باندې هم ګيلې معنې شروع کوي ❁ اوس خو خلق د مال زياتولو د پاره د سود لين دين کوي، حالانکې هم الله پاک رازق دے او هغهٔ په حلالو کښې برکت کيښودے دے ❁ د غريبئ د ويرې له وجهې حرامې طريقے اختيارولے شي ❁ خلق د نمونځ وخت په دکان کښې تيروي، د دې ويرې له وجهې که نمونځ له لاړ شي نو دکان به يې بند پاتې شي، نوکري به ترينه لاړه شي ❁ خلق د دې ويرې نه دروغ وائي چې که رښتيا مې ووئيل نو کار به مې نه چليږي ❁ خلق شور کوي، د صبر نه کار نهٔ اخلي، د الله پاک نه ګيلې کوي ❁ او د ايمان کمزورئ ته يې وګورئ چې خلق بد ګماني کوي۔ د افسوس خبره ده چې زمونږه په معاشره کښې بد ګماني ډيره عامه ده ❁ سحر وختي که چرته ړوند، شَل يا معذوره کَس ووينې نو ذهن يې جوړيږي چې ننئ ورځ به ښه نه تيريږي ❁ که څوک څهٔ کار کوي، چا ورته څهٔ خبره وکړه نو وائي چې ستا ژبه توره ده، اوس به دا کار نه کيږي ❁ د ايمبولينس (***Ambulance***) اواز چې واوري نو بد ګماني کوي ❁ کار له چې ځي او په مخه باندې يې توره پيشو تيره شي نو يقين کولے شي چې څهٔ نقصان به کيږي، ځکه د کار نه منع شي ❁ که سترګه يې ورپيږي نو ذهن يې جوړ شي چې څهٔ مصيبت به راځي ❁ کله د نمبرو نه بد ګماني اخستے کيږي، مثلاً 13 نمبر سپيرهٔ ګڼلے کيږي ❁ کله په ورځو بدګماني کولے شي ❁ بعضې مياشتې خلق سپيرهٔ ګڼي۔

غرض دا چې دا د ايمان کمزوري ده، چې پۀ الله پاک باندې يقين نه وي نو داسې غلط ګمانونه کيږي، ګنې نو پۀ دې دُنيا کښې سپيرۀ هيڅ هم نشته، صرف ګناه سپيرۀ ده، د ګناهونو ذريعې سپيرۀ دي، صرف هغه وخت سپيرۀ دے، کوم وخت چې انسان پۀ ګناه کښې اخته وي، که زمونږ پۀ کارونو کښې څۀ خنډ [يعنې رکاوټ] راځي نو د ګناهونو د سپيرۀ والي له وجهې راځي، که مونږ د ناکامۍ سره مخ کيږو نو د ګناهونو له وجهې مخ کيږو، ګنې بد ګماني صرف يو غلط خيال دے، د وهم نه علاوه هيڅ څيز نه دے.

## د بدګمانۍ پۀ بدو باندې 2 مبارک حديثونه

❁ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَطَيَّرَ وَ لَا تُطُيِّرَّ لَهٗ چا چې بد ګماني وکړه او د چا د پاره چې بد ګماني وکړے شوه هغۀ زمونږ نه نۀ دے۔ [(1)] ❁ زمونږه نبي، رښتوني نبي، ښه نبي، آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: چا چې د عيبو خبره وکړه يا چې څوک د غشو پۀ ذريعه فال راوباسي يا چې څوک د بد ګمانۍ له وجهې د سفر نه راواپس شي هغۀ ګس چرې هم اوچتو درجو ته نشي رسيدے۔ [(2)]

## د کاميابۍ شرطونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د هرې يوې کاميابۍ د پاره څلور شرطونه وي: **(1):** واضِحه مقصد **(2):** ښه منصوبه (***Planning***) **(3):** پۀ صحيح لاره باندې

---

1...مُسْنَدِ بَزَّار، جلد:9، صفحه:52، حديث:3578۔

2...مجمعُ الزَّوائِد، جلد:5، صفحه:144، حديث:8487۔

پوره محنت **(4):** پهٔ الله پاک باندې کامِل يقين۔ بنده چې دا څلور واړه شرطونه پوره کړي نو کاميابي (***success***) يې نصيب کيږي، الله پاک د چا محنت نهٔ ضائع کوي۔ پهٔ قرآن کريم کښې دي:

وَّاَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ (پارہ:4، ال عمران:171)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: الله به د ايمان والؤ اجر نه ضائع کوي۔

دلته څهٔ کيږي چې خلق دا شرطونه نهٔ پوره کوي، بيا چې ورته کله کاميابي نه ميلاويږي نو ګيلې کوي، خپله غلطي کله پهٔ توره پيشو باندې وراچوي، کله چا ړوند ته سپيرهٔ وائي او خپل زړهٔ له تسلي ورکوي۔

## د کاميابۍ د شرطونو مثالونه

پکار ده چې د کاميابۍ څلور واړه شرطونه پوره کړے شي، بيا وګورئ چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! کوم کوم برکتونه مو نصيب کيږي، د مثال پهٔ طور ❁ پهٔ کور کښې سکون غواړئ، دا واضحه مقصد دے، د دې د پاره دې باقاعده منصوبه جوړه کړے شي، سوچ او فِکر دې وکړے شي چې پهٔ کور کښې جنګ جګړې ولې کيږي، بيا دې د پوره محنت سره پهٔ دې جوړه کړے شوې منصوبه باندې عمل وکړے شي، پهٔ کور کښې د امن او سکون راوستو پهٔ طريقو باندې دې د پوره کوشش کولو سره عمل وکړے شي، ورسره ورسره دې پهٔ الله پاک باندې يقين هم وکړے شي، دعاګانې دې وکړے شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! کاميابي به مو نصيب کيږي ❁ حلال رزق ګټل دي، دې د پاره بهترينه منصوبه جوړه کړئ، پوره محنت وکړئ، پهٔ کار کښې سستي مهٔ کوئ، شرم او ويره پهٔ لاره کښې خنډ [يعني رکاوټ] مهٔ جوړوئ، ورسره ورسره پهٔ الله پاک باندې يقين هم کوئ، وظيفې هم کوئ، دعاګانې هم کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د الله پاک رحمت به درسره وي ❁ داسې که پهٔ امتحان کښې

کامیابیدل غواړئ 🌸 پهٔ انټرویو کښې پاس کیدل غواړئ 🌸 که د غټ نهٔ غټ هر یو کار کول غواړئ، د هغې د پاره باقاعده پوره منصوبه جوړه کړئ، پهٔ ربښتونې شوق سره، پهٔ ذوق سره پوره محنت وکړئ او د الله پاک پهٔ رحمت باندې پوخ یقین ساتئ **اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم!** کامیابي به مو نصیب شي۔

## مقصد حاصل شو

یو صاحب وو، څوک چې د طریقت پهٔ لار باندې ووتلو، هغوئې د زړهٔ صفا کولو سره د الله پاک د قُرب حاصلولو د پاره ډیر کلونه مجاهدے او عبادتونه وکړل خو مقصد یې حاصل نه کړے شو، اخر د سید شاه آلِ مُحَمَّد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پهٔ خدمت کښې **مارهره شریف** ته حاضر شو او عرض یې وکړو چې څومره کلونه مې وشول خو مقصد مې حاصل نکړو۔ شاه آلِ مُحَمَّد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه هغوئې د ځان سره قبول کړو او د خانقاه شریف پهٔ یوه کمره کښې یې د هغوئې د پاتې کیدو انتظام وکړو۔ ورسره هغوئې خادم راوغوښتو او حکم یې وکړو چې دهٔ ته د ماښام پهٔ ډوډۍ کښې مهے [یعنې کب] ورکړئ خو چې یو ګوټ اوبه ورسره هم نه وي او د خوراک نه پس وریسې فوراً دروازه د بهر نه بنده کړئ۔ خادم پهٔ حکم باندې عمل وکړو، د ماسخوتن د نمونځ نه پس یې هغوئې له پهٔ خوراک کښې مهے ورکړو، چې کله هغوئې وخوړو نو خادم فوراً د بهر نه دروازه بنده کړه او لاړو۔

مهے خو پهٔ اوبو مئین وي، پهٔ اوبو کښې اوسیږي، دا چې پوخ کړې او اوئې خورې نو بیا هم اوبه غواړي، نو هٰغه صاحب ډیر زیات تږے شو خو اوبه خو نه وې، دروازه د بهر نه بنده وه، پخپله یې هم نشوې ښنلے، بیا دهٔ د دننه نه چغې وهلې چې ما له اوبه راکړئ خو هلته څوک وو چې د دهٔ خبره به یې اوریدله! دهٔ له اوبه نه ورکول وې او نه ورکړے شوې، شپه چې هر څنګه وه تیره شوه۔ د سحر د

نمونځ پهٔ وخت خادم دروازه برسيره کړه، چې څنګه يې دروازه برسيره کړه نو دا صاحب پهٔ منډه لاړو او بنه ډيرې اوبه يې وڅښلې. هيله پکښې ساه راغله، بيا يې د سحر نمونځ ادا کړو. د نمونځ نه پس ترينه شاه آلِ مُحَمَّد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پوښتنه وکړه: څنګه يې؟ عرض يې وکړو: حضور! د شپې خو خادمانو زهٔ وژلے ووم. پهٔ داسې ګرمۍ کښې خو يې يو پهٔ ما باندې مهے وخوړو او يو ګوټ اوبه يې هم رانکړې او بَل خوا يې راپسې د کمرې دروازه هم د بهر نه بنده کړه. اوئې فرمائيل: بيا دې شپه څنګه تيره کړه؟ عرض يې وکړو: چې تر څو پورې ويخ ووم نو د اوبو خيال راتللو! چې کله اوده شوم نو پهٔ خوب کښې مې هم د اوبو نه علاوه څهٔ نه ليدل. شاه آلِ مُحَمَّد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ووفرمائيل: طلبِ صادِق (يعنې رښتونے طلب) هم د دې نوم دے. کوم مقصد ته چې د نهٔ رسيدو تا شکايت کولو (چې د دومره کالو نه مقصد حاصل نشو)، آيا چرې دې د هغې د پاره هم داسې طلب کړے وو؟ بيا هٰغه صاحب د خپلې ناکامۍ وجه پيژندلې وه، بيا يې د رښتونې طلب سره مجاهدات شروع کړل، آخر د الله پاک فضل وشو او هغوئې پهٔ خپل مقصد کښې کامياب شول. (1)

| | |
|---|---|
| تجھ کو گر رُتبۂ عالی کی طلب ہے بھائی! | غور سے سُن! تجھے ہستی کو مٹانا ہو گا |
| بھائیو! چاہئے گر رَبِّ محمد کی رضا | خود کو محبوب کی سُنّت پہ چلانا ہو گا (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د محنت سره تَوَکُّل هم ضروري دے

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پهٔ دې دُنيا کښې د مشکلاتو سره د جنګيدو، د مصيبتونو نه د وتو او د کاميابۍ موندلو د پاره يو ضروري څيز تَوَکُّل هم دے. الله

1...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحہ: 470 ملخصاً۔

2...وسائلِ بخشش (مرمم)، صفحہ: 185 ملتقطاً۔

پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

فَاِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَکَّلۡ عَلَی اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الۡمُتَوَکِّلِیۡنَ ﴿۱۵۹﴾

(پاره: 4، آلِ عمران: 159)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا چې کله د کومې خبرې پخه اراده وکړې نو پهٔ الله تَوَکُّل وکړه، بے شکه الله د تَوَکُّل کوونکو سره مَحبَّت کوي۔

د دې آیت لاندې پهٔ تفسیر خزائنُ العِرفان کښې دي: د تَوَکُّل معنیٰ ده: پهٔ الله پاک باندې اعتماد کول او کارونه هم هغهٔ ته حواله کول۔ مقصد دا دے چې د بنده اعتماد پهٔ ټولو کارونو کښې پهٔ الله پاک باندې پکار دے۔ (1)

## د الله پاک د رحمت نه اُمید ساتئ!

د حضرت عبد الله بن داؤد رَحۡمَۃُ اللّٰهِ عَلَیۡه نه پوښتنه وکړے شوه چې تَوَکُّل څهٔ ته وئیلے شي؟ اوئې فرمائيل: اَنَّ التَوَکُّل حُسۡنُ الظَّنِّ بِاللّٰه یعنې د الله پاک پهٔ رحمت باندې د یقین ساتلو نوم تَوَکُّل دے۔ (2)

معلومه شوه چې کله مونږ د یو کار اراده وکړو نو بیا پهٔ الله پاک باندې یقین ساتو، د الله پاک پهٔ رحمت باندې پوره یقین وي چې محنت به کووم نو رَبِّ کریم به پهٔ خپل رحمت باندې ما ته ضرور کامیابي عطا کوي ❁ دا د ستورو چال ما ته هیڅ نشي وئیلے ځکه چې حَسۡبُنَا اللّٰهُ مونږ له الله پاک کافي دے ❁ که توره پیشو پهٔ مخه تیره شي نو بیا هم زما کارونه نشي ودریدے ځکه چې حَسۡبُنَا اللّٰهُ مونږ له الله کافي دے ❁ د نجومیانو خبرې زما د مستقبل فیصله نشي کولے ځکه چې حَسۡبُنَا اللّٰهُ مونږ له الله کافي دے ❁ که سپوږمۍ تندر ونیسي او که نمر تندر ونیسي، که د صفرې میاشت

1... خزائن العرفان، پاره:4، آل عمران، زیرِ آیت:159، صفحه:141۔

2... موسوعه ابن ابي الدنیا، حسن الظن بالله، جلد: 1، صفحه:60، رقم: 27۔

وي او که د نهې ورځ وي، زما په کاميابۍ کښې داسې هيڅ بد ګماني خنډ [يعنې رکاوټ] نشي جوړيدے ولې؟ ځکه چې زما عقيده ده: حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل مونږ له الله پاک کافي دے او هغهٔ ځومره ښه حاجت روا (يعنې کارونه صحيح کوونکے) دے۔

کیوں کر نہ میرے کام بنیں غیب سے حسنؔ | بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا[1]

## ځوک چې تَوَکُّل وکړي، الله پاک هغهٔ له کافي دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حَسْبُنَا اللّٰهُ مطلب په اَصل کښې دا دے چې په هر يو کار کښې چې د کاميابۍ مخالف کوم طاقتونه دي، يعنې زمونږ د کاميابۍ په لاره کښې چې کوم خنډان [يعنې رکاوټونه] دي، بنده د هغې پروا ونکړي او په زړهٔ کښې دا يقين وکړي چې زما د پاره الله پاک کافي دے، چې هغه رَبِّ ذيشان زما مددګار دے، چې د هغهٔ مدد راسره وي نو د دُنيا يو خنډ [يعنې رکاوټ] ما د کاميابۍ نه هيڅکله هم نشي منع کولے۔ د الله پاک په رحمت باندې دا ربنتونے او پوخ اعتماد هغه عظيم دولت دے، د کوم نه چې مونږ ته طاقت هم ميلاويږي، د کوم نه چې مونږ ته همت هم ميلاويږي، حوصله هم نصيب کيږي او هم د دې په برکت بنده د هر مشکل نه په اسانۍ سره تيريږي۔ الله پاک په قرآن کريم کښې فرمائي:

وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ؕ

(پاره:28، الطلاق:3)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او ځوک چې په الله تَوَکُّل وکړي نو هغهٔ د هغهٔ د پاره کافي دے۔

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې که هر څنګه مشکلات وي، که هر ځومره مصيبتونه راشي، که د کاميابۍ په لاره کښې هر قِسمه خنډان [يعنې رکاوټونه] ولې نه وي، کوم خوش قِسمته چې په الله پاک باندې يقين وکړي، رَبِّ کريم په خپل رحمت سره د هغهٔ د پاره کافي شي۔

---

1 ...ذوقِ نعت، صفحه:18۔

## د نابينا مرغۍ تَوَکُّل

صحابئ رسول حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: يو ځل زۀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره بهر ووتم، مونږ وکتل چې يوه نابينا مرغۍ ده، هغې ته څۀ نه ښکاري او هغۀ پۀ خپله مښوکه باندې وَنه وهي. د هر چا پۀ خبرو باندې پوهيدونکي نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: اے اَنس! پته درته شته چې دا مرغۍ څۀ وائي؟ ما عرض وکړو: الله او د هغۀ رسول ښه پوهيږي. اوئې فرمائيل: دا وائي: **اے الله! تۀ انصاف کوونکے يې، هم تا زما د سترګو رڼا لرې کړې ده، زۀ وږې شوې يم.**

فرمائي: اوس لا دا خبره کيدله چې يو ملخ راغلو او د دې مرغۍ خُلې ته داخل شو. بيا هغې مرغۍ دوباره پۀ خپله مښوکه باندې وَنه وهله، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: اے اَنس! پته درته شته چې اوس دا څۀ وائي؟ ما عرض وکړو: نۀ. اوئې فرمائيل: دا وائي: مَنۡ تَوَکُّل عَلَی اللّٰہِ کَفَاہُ څوک چې پۀ الله پاک باندې يقين کوي، الله پاک هغۀ له کافي شي. (1)

## د وحي پۀ ذريعه يې مدد وشو

د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا ډيره د اوچتې مرتبے هستي ده، يو ځل بعضې ګنده ذهن لرونکو منافقانو د هغې پۀ باره کښې ډيره غلطه افواه خوره کړه، د هغه منافقانو پۀ رد کښې الله پاک د قرآنِ کريم تقريباً 18 آيتونه نازل کړل او د بي بي عائشه صِدِّيقه طيبه طاهِره رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا پاکوالے يې ښه واضحه کړو. يو ځل حضرت زينب رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د بي بي عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا نه پوښتنه وکړه: اے

---

1 ... الحاوی للفتاوٰی، الفتاوٰی الحدیثیه، مجموع الاسئلة الناجية، صفحه:442۔

عائشه! تاسو داسې کوم عمل کړے وو چې الله پاک ستاسو په شان کښې 18 آيتونه نازل کړل؟ اوئې فرمائيل: ما وئيلې وو: حَسْبِیَ اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل ما له الله کافي دے او هغۀ ځومره ښه کار ساز دے۔ (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې روايت نه د حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهَا شان او عظمت هم معلوم شو، وړومبے خو دې ته وګورئ چې د هغې تَوَکُّل ځومره مضبوط وو، د الله پاک سره د هغې تعلق ځومره عظيم وو، په هغې باندې مشکل وخت راغلو، پريشاني راغله، هغې د الله پاک په رحمت باندې يقين وکړو، بيا د الله پاک کرم ته وګورئ چې رَبِّ رحمان د خپل محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محترمې کور ودانې په شان کښې 18 آيتونه نازل کړل او د هغې پاکوالے يې ښه واضحه کړو۔

| | |
|---|---|
| اہلِ اسلام کی مادرانِ شفیق | بانُوانِ طہارت پہ لاکھوں سلام |
| بنتِ صدّیق آرامِ جانِ نبی | اس حریمِ بَرَاءَت پہ لاکھوں سلام (2) |

**وضاحت:** په اِسلام والو باندې په شفقت کوونکو، پاکو مئيندو باندې دې سلام وي، د حضرت صِدِيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ لور حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهَا څوک چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړۀ آرام دے، د چا په باره کښې چې د الله پاک د لورې د پرهيزګارۍ او پاکوالي صفائي نازله شوه په هغې دې په لکونو سلامونه وي۔

## په حَسبی اللّٰهُ او حَسبُنَا اللّٰه کښې فرق

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو اورئ چې په بعضې روايت کښې لفظ حَسْبُنَا الله راځي او په بعضې روايت کښې حَسْبِیَ الله راځي۔ د دې دواړو مطلب په اَصل

---

1 ... موسوعه ابن ابي الدنيا، التَوَکُّل على الله، جلد:1، صفحه:161، حديث:47 بتصرف۔

2 ... حدائقِ بخشش، صفحه:310، 311 ملتقطاً۔

کښې هم يو دے، فرق صرف دومره دے چې حَسْبُنَا الله د جمع د پاره دے او حَسْبِیَ الله د واحِد د پاره دے۔ يعنې چې کله وئيل وي: مونږ له الله کافي دے نو وئيلے به شي: حَسْبُنَاالله او چې کله وئيل وي: ما له الله کافي دے، نو بيا به حَسْبِیَ الله وئيلے شي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت جزئِيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه غيبي مدد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ الله پاک باندې د يقين کوونکو څنګه څنګه مدد کولے شي، يوه بله ايمان تازه کوونکې واقعه واورئ! حضرت جزئِيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام اُمّتي دے، هغوئي د فرعون د ترهٔ ځوي وو، هغوئي د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام کلمه ووئيله او ايمان يې راوړلو او د نيکۍ لارې مسافر جوړ شو، فرعون چې کله د دې خبرې نه خبر شو نو هغوئي له يې دهمکي ورکړه او اوئې وئيل: که تا زمونږ د دِين مخالفت وکړو نو مونږ به ستا سره ډير بد سلوک کوو۔ [1] حضرت جزئِيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل پوخ ايمان مظاهره وکړه او اوئې وئيل:

وَ اُفَوِّضُ اَمْرِیْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِیْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾ (پاره: 24، اَلْمُؤمِن: 44)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زهٔ خپل کارونه الله ته سپارم، بے شکه الله بندګان وِيني۔

رکھتے ہیں جو اللہ کی قُدرت پہ بھروسا
دُنیا میں کسی کی وہ خوشامد نہیں کرتے

چې حضرت جزئِيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپله معامله الله پاک ته وسپارله نو الله پاک د فرعون نه د هغوئي حفاظت وکړو۔ **مُفسِّرِين کرام فرمائي:** فرعون ته، د هغهٔ قوم ته د ايمان د دعوت ورکولو نه پس حضرت جزئِيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرعون د دربار نه روان شو او يو

1 ... صراط الجنان، پارہ:24، سورۂ مؤمن، زیرِ آیت:44، جلد:8، صفحه:568 بتصرف۔

غر ته لاړو او هلته يـې د الله پاک عبادت شروع کړو، فرعون پهٔ هغوئي پسې سپاهيان وليږل نو اوئې کتل چې حضرت حِزقِيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ عبادت کښې مصروف دے او ځنګلي ځناور (مثلاً شر مخ، پړانګ وغيره) د هغوئي څوکۍ کوي، دا منظر يـې چې وليدو نو د فرعون پهٔ سپاهيانو باندې غونـے ځيګ ځيګ شو او هغوئي د ويرې نه وتښتيدل۔ [1]

جسے تُو پکڑ لے اس کو چھڑا سکتا نہیں کوئی | اسے پھر کون پکڑے جس کو مولیٰ تُو رِہا کردے

**وضاحت:** يا الله پاکه! ستا دا شان دے څوک چې تهٔ پهٔ ګرفت کښې راولې نو هيڅوک هم هغهٔ نشي بچ کولے او چا ته چې ته بخښنه وکړې نو بيا هغهٔ څوک پهٔ ګرفت کښې راوستے شي۔۔؟

د دې نه پس پهٔ فرعون او د هغهٔ پهٔ قوم باندې عذاب راغلو او هغوئي پهٔ درياب کښې غرق کړے شول۔

مَشِيَّت کس کے بَس میں، قَضا سے کون لڑتا ہے | یہاں جو سَر اُٹھاتا ہے، اسے جھکنا ہی پڑتا ہے

**وضاحت:** يعنې د الله پاک مرضي او د هغهٔ تقدير د چا پهٔ وَس کښې دے، څوک د قِسمت سره جنګ کولے شي، د رَبِّ قهار پهٔ مخکښې چې څوک سر پورته کوي، تکبر کوي، هغهٔ ته هم سر د لاندې راغورځيدل وي۔

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د هر مشکل نه د نجات وظيفه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** حَسْبُنَا الله ډيره بهترينه وظيفه ده ❀ که څهٔ مشکل وي ❀ څهٔ پريشاني وي ❀ غريبي وي ❀ کارونه ولاړ وي ❀ پهٔ کور کښې پريشاني وي ❀ پهٔ دُکان کښې پريشاني وي ❀ پهٔ دفتر کښې پريشاني وي ❀ څهٔ بيماري راغلې وي ❀ قرض درباندې وي ❀ که هر قِسمه غټ مشکل راشي، د

[1] ...تفسیر جیلانی، پارہ:24، سورۂ مؤمن، زیرِ آیت:44، جلد:4، صفحہ:322۔

زړۀ پۀ يقين سره د حَسْبُنَا اللهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل وظيفه وکړئ! الله پاک به درته د هر مشکل نه نجات عطا کړي۔ **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** چې کله تاسو ته څۀ مشکل، پريشاني، غټ مصيبت راشي حَسْبُنَااللهُوَنِعْمَالْوَكِيْل لولئ۔۔!! (1)

## د هرې ويرې نه امان

علامه سيوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حديثِ پاک ذِکر کړے دے، رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حَسْبِيَ اللهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل اَمَان لِكُلِّ خَائِفٍ يعني حَسْبِيَ اللهُوَنِعْمَالْوَكِيْل لوستل هر ويريدونکي ته امان ورکوي۔ (2)

د حضرت امام جعفر صادق رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ارشاد دے: زۀ هٰغه بنده ته ډير حيران يم چا ته چې د چا نه خطره وي نو هغۀ حَسْبُنَااللهُوَنِعْمَالْوَكِيْل ولې نه لولي۔ (3)

## د ويرې ورته نجات حاصل شو

حضرت ابو بکر عَجَلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې يو ځل زۀ پۀ باغ کښې ووم، ناڅاپه ما يو خطرناک شکل والا د تور رنګ ګَس وليدو (شايد چې هغۀ ښوک پيرے وو)، وړومبے خو زۀ ويريدم، بيا ما دا لوستل شروع کړل: حَسْبِيَ اللهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل، حَسْبِيَ اللهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل چې څنګه ما دا وئيل هٰغه تور رنګ والا ګَس پۀ زمکه دننه کيدلو، د دې برکتي وظيفې پۀ برکت سره هٰغه تور رنګ والا ګَس تول پۀ زمکه دننه شو او ما ته د هغۀ نه نجات حاصل شو۔ (4)

---

1...الجامع الصغير، صفحه:61، حديث:897۔
2...الجامع الصغير، صفحه:226، حديث:3715۔
3...دو خزانے، صفحه:7۔
4...موسوعه ابن ابي دنيا، التَّوَكُّل، جلد:1، صفحه:152، رقم:32۔

## د لَړې او يخنۍ نه نجات حاصل شو

خليفه مهدي څوک چې د خلافتِ عباسيه يو خليفه وو. يو ځل د ښكار ته پاره ووتو، په لاره كښې سخت طوفان راغلے، د خليفه سره چې څومره سپاهيان وو، ټول د هغهٔ نه جدا شول، هيڅ په نظر نه راتلل، بيا خليفه په ځنګل كښې يواځې پاتې شو. ډيره سخته ورته راپيښه شوه، د وَنو نه ډک ځنګل دے، خليفه يواځې په دې ځنګل كښې دے، څوک ملګرے، څوک سپاهي ورسره نشته. خليفه مهدي وائي چې په دې تنهايۍ كښې سخت وږے شوے هم ووم، تږے شوے هم ووم او ورسره مې يخني هم ډيره زياته كيدله. نور وائي چې ناڅاپه ما ته يو حديثِ پاک راياد شو، د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: كوم بنده چې سحر او ماښام دا دُعا ولولي هغهٔ به د ❀ سوزيدو ❀ ډوبيدو ❀ غورځيدو او تباه كيدو ❀ او د بد مرګ نه محفوظ وي.

دُعا كومه يوه ده؟

بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ، وَلاحَوْلَ وَلاقُوَّةَ إِلاّبِاللّٰهِ، اِعْتَصَمْتُ بِاللّٰهِ، وَتَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ، حَسْبِیَ اللّٰهُ، لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلاّ بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِيم

خليفه وائي چې ما چې كله په پوره يقين سره دا دُعا ولوستله نو ما لږ لرې بَل شوے وور وليدو، زهٔ هلته لاړم، هغه د يو اِعرابي چوپړۍ وه، هغه اِعرابي زما ښه ميلمستيا وكړه، بهترين شربت يې راباندې وڅښلو، داسې شربت ما مخكښې چرته نه وو څښلے، بهترين خوراک يې راباندې وكړو او د اوده كيدو د پاره يې راته بهترينه بستره راكړله.

داسې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښودلے شوې دُعا په بركت سره زما ژوند بچ شو،

لوړه او تنده مې هم ختمه شوه او د يخنۍ نه د حفاظت ذريعه هم جوړه شوه۔ [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې حَسْبُنَا اللهُ بهترينه وظيفه ده، د دې په برکت لوئې لوئې مشکلات لرې کيږي۔

## د نبيانو وظيفه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حَسْبُنَا اللهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل د نبيانو وليانو وظيفه ده۔ د الله پاک د خوږو نبيانو دا طريقه وه چې کله به هغوئې ته څۀ سخته راپيښه شوه، څۀ پريشاني به وه نو بد ګماني به يې نه کوله بلکې د الله پاک په لور به يې توجه کوله، په هغۀ باندې به يې يقين کولو، د زړۀ د پوخ يقين سره به يې حَسْبُنَا اللهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل لوستل۔ د حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: د وور په ورځ (په کومه ورځ چې نمرود د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د پاره وور بل کړے وو) په هٰغه ورځ چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د وور خوا له راوستے شو نو هغوئې چې وور وليدو نو اوئې وئيل: حَسْبُنَا اللهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل مونږ له الله کافي دے او هغۀ ځومره ښه کار ساز دے۔ [2]

بيا هم د دې وظيفې برکت وو، د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د کامِل يقين او د الله پاک په رحمت باندې د باور برکت وو چې هٰغه ډير وور کوم چې تر ميلونو پورې خور وو، د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د پاره د ګلونو باغ جوړ شو۔

## تروې اوبه خوږې شوې

1... تاريخِ مدينه دمشق، جلد:53، صفحه:435۔
2... حلية الاوليا، جلد:1، صفحه:51، رقم:34۔

دغه شان د الله پاک د نبي حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام پۀ باره کښي روايت دے: چې کله هغوئي کوهي ته وغورځولے شو نو هغوئي ولوستل: حَسْبِيَ اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْل ما له الله کافي دے او هغۀ ښۀ کار ساز دے۔ **پۀ کتابونو کښي ليکلي دي:** د ځاه کوهي اوبه ترخې وې، د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام د دې وظيفې پۀ برکت سره اوبه خوږې شوې۔ [1] (او الله پاک د ځاه کوهي نه د وتلو اسباب هم پيدا کړل)

## چې کله څۀ مشکل راپيښ شي

امام اِبنِ ابي دُنيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د نبيانو سلطان، رسولِ ذيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله بنده ته څۀ غم، څۀ مصيبت راپيښ شي نو لولي دې:

حَسْبِيَ الرَّبُّ مِنَ الْعِبَادِ، حَسْبِيَ الْخَالِقُ مِنَ الْمَخْلُوقِيْنَ، حَسْبِيَ الرَّازِقُ مِنَ الْمَرْزُوقِيْنَ، حَسْبِيَ الَّذِي هُوَ حَسْبِيْ، حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ، حَسْبِيَ اللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم [2]

**ترجمه:** د بندګانو پۀ ځائے ما له رَبِّ کريم کافي دے، د مخلوقاتو پۀ مقابله کښې ما له خالق کافي دے، د رزق د وسيلو پۀ ځائے ما له پخپله رازق کافي دے، ما له هغۀ کافي دے، ما له الله پاک کافي دے هغۀ بهترين کار ساز دے، ما له الله پاک کافي دے د هغۀ نه علاوه هيڅ معبود نشته، پۀ هغۀ باندې زما يقين دے هغۀ د عرشِ عظيم رَبّ دے۔

## د درد نه به نجات ميلاويدو

منقول دي چې خلقو چې کله يو بيمار بوډا بابا ته د علاج کولو ووئيل نو هغۀ د علاج

1… موسوعه ابن ابي دنيا، التَّوَكُّل، جلد:1، صفحه:151، حديث:29۔
2… موسوعه ابن ابي دنيا، الفرج بعد الشدة، جلد:2، صفحه:114، حديث:54۔

کولو نه انکار وکړو او اوئې وئیل چې صبر کوونکو د علاج نه بهتر حل راکړے دے۔ خلقو ووئیل: الله پاک دې پۀ تاسو باندې رحم وکړي، د علاج نه بهتر حل څۀ دے؟

بوډا بابا د 23 سیپارې د سورۀ زمر آیت 10 تلاوت کړو:

اِنَّمَا یُوَفَّی الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَیْرِ حِسَابٍ ﴿۱۰﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هُم صبر کوونکو ته به د هغوئې ثواب بے حسابه پوره ورکولے کیږي۔

بیا یې ووئیل چې زۀ یو څیز هم د صبر برابر نۀ ګنړم او د علاج کولو نه یې انکار وکړو، د دې نه پس چې به کله هم هغۀ ته د درد زیاتوالے محسوس شو نو هغۀ به حَسْبِیَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَکِیْلُ لوستل نو د هغۀ زیات درد به ختمیدو۔ (1)

## یو اَهم وضاحت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته یو وضاحت وکړم چې الله دې نه کړي که څۀ مرض، بیماري راشي نو علاج کول پکار دي ځکه چې علاج کول د سُنّتو نه ثابت دي، البته هٰغه نیکان خلق څوک چې د تَوَکُّل اوچتې مرتبې ته رسیدلي وي، هغوئې بعضې ځل پۀ الله پاک باندې یقین کوي او علاج نه کوي، دا د هغوئې پۀ حق کښې صحیح دہ۔ مونږ له پکار دي چې علاج ضرور وکړو۔ آؤ! روحاني علاج (یعني د قرآني آیتونو او پۀ قرآن او حدیثونو کښې د بیان شوو وظیفو، تعویذونو وغیره پۀ ذریعه علاج کول) زیات بهتر وي ځکه چې شِفا ورکوونکے ذات هم د الله پاک دے او د هغۀ پۀ نومونو کښې شِفا دہ۔ د دې نه علاوه پۀ شریعت کښې دننه د میډیکل وغیره پۀ ذریعه علاج کول پکار دي۔

## الله پاک به کافي شي

1 ... موسوعه ابن ابي دنيا، الصبر والثواب عليه، جلد:4، صفحه:51، رقم:132 ملخصاً۔

د حضرت ابو دَرداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، فرمائي: کوم بنده چې سحر او ماښام اووه اووه [7، 7] کرته دا وظيفه ولولي: حَسْبِيَ اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ـــ!! الله پاک به د دُنيا او د آخرت په ټولو مشکلاتو کښې د هغهٔ د پاره کافي شي۔ [1]

## د شجره قادريه عطّاريه يوه وظيفه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** غور وکړئ چې زمونږ سره دا ښومره ښکلې وظيفه ده ـــ!! ❁ که څهٔ مشکل وي ❁ څهٔ پريشاني وي ❁ څهٔ مصيبت راشي ❁ قرض درباندې وي ❁ کار روزګار بند وي ❁ نوکري تلې وي ❁ بيماري راغلې وي ❁ غرض دا چې څهٔ مشکل هم راغلے وي، بيا د دې وبال پهٔ توره پيشو باندې، پهٔ چا ړوند باندې، پهٔ ستورو باندې مهٔ اچوئ! يعنې بد ګماني مهٔ کوئ! وظيفه وکړئ! حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيل ...!! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! مشکلات به مو اسان شي۔

پهٔ شجره عاليه قادريه عطّاريه کښې دي چې روزانه د سحر د نمونځ نه پس د نمر راختو نه مخکښې او د ماښام د نمونځ نه پس لس لس [10، 10] کرته پهٔ پابندئ سره د دې دُعا د لوستونکي به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ټول جائز کارونه صحيح شي او دښمن به يې مغلوب شي۔ [2]

حَسْبِيَ اللّٰهُ ۖ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۗ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۲۹﴾

(پاره:11، التوبه:129)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ما له الله کافي دے، د هغهٔ نه سِوا بل هيڅ معبُود نشته، ما هُم پهٔ هغهٔ باندې تَوَکُّل وکړو او هغهٔ د عرش عظيم مالِک دے۔

---

1 ... عمل اليوم و الليله لابن سنى، صفحه:63، حديث:71۔

2 ... شجره قادريه رضويه ضيائيه عطاريه، صفحه:27۔

## د نبيانو، وليانو نه مدد غوښتل څنګ دي...؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د بيان په اخره کښې يو اهم وضاحت هم واورئ!
❀ د حَسْبُنَا اللّٰهُ مطلب دے: مونږ په الله پاک باندې يقين لرو ❀ د حَسْبُنَا اللّٰهُ مطلب دے: چې الله پاک زما سره دے، لهٰذا زهٔ د څهٔ مشکل نه نهٔ ويرېږم ❀ د حَسْبُنَا اللّٰهُ مطلب دے: چې الله پاک زما سره دے نو زهٔ په لاره کښې د يو خنډ [يعني رکاوټ] نه نهٔ ويرېږم ❀ د حَسْبُنَا اللّٰهُ مطلب دے: چې الله پاک زما سره دے، لهٰذا زما حوصلې اوچتې دي، لهٰذا زهٔ همت والا يم، لهٰذا ما ته خطره نشته، زما سره هيڅ ويره نشته.
خو د حَسْبُنَا اللّٰهُ مطلب دا نه دے چې ما له الله کافي دے ❀ لهٰذا زهٔ د نبيانو وليانو نه بے نيازه شوم ❀ د حَسْبُنَا اللّٰهُ مطلب دا نه دے چې يا رسولَ الله وئيل شِرک شو ❀ د حَسْبُنَا اللّٰهُ مطلب دا نه دے چې يا غوث وئيل شِرک شو. نهٔ، نهٔ...!! د دې هيڅکله هم دا مطلب نه دے، راځئ چې زهٔ تاسو ته يو آيت مبارک بيان کړم، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے نبي! |

اے زمونږه محبوبه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اے د غيبو خبرونو ويونکيه نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم !

| | |
|---|---|
| حَسْبُكَ اللّٰهُ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تا له الله کافي دے |

ستاسو د پاره الله کافي دے. دلته اوس په خبره ځان پوهه کړئ، آيا صرف الله کافي دے؟ يا ورسره نور څهٔ هم دي؟ اوئې فرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۴﴾ع (پاره:10، الانفال:64) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او کوم مسلمانان چې ستا تابعدار دي. |

يعنې اے محبوبهٔ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو د پاره ستاسو رَبِّ کريم هم کافي دے او ورسره ورسره چې ستاسو دا کوم صحابه کرام دي، ستاسو کلمه لوستونکي پاخه رښتوني مسلمانان دي، دا هم ستاسو د پاره کافي دي۔
معلومه شوه چې زمونږ د پاره الله کافي دے، ضرور کافي دے خو د دې هيڅکله هم دا مطلب نه دے چې د الله پاک د بندګانو نه مدد غوښتل، د نبيانو وليانو نه مدد غوښتل شِرک دے؟ نهٔ۔۔!! نهٔ۔۔!! بے شکه هم الله کافي دے، بے شکه هم الله مددګار دے خو هغهٔ پهٔ مختلفو طريقو باندې مدد کوي۔ زهٔ د يو مثال پهٔ ذريعه عرض کووم چې رازق څوک دے؟ الله پاک۔ هغهٔ ټولو ته رزق عطا کوي خو مونږ د الله پاک د هغه رزق حاصلولو د پاره څهٔ کوو؟ ❁ دکانونه برسيره کوو ❁ کاروبارونه کوو ❁ محنت مزدوري کوو ❁ ولې؟ رازق خو الله پاک دے، بيا مونږ دکان ته ولې ځو؟ يقيناً چې معمولي عقل لرونکے مسلمان به هم دا وائي چې رازق هم الله پاک دے، هغهٔ د رزق عطا کولو انداز مختلف کيښودي دي، چا ته د دکان پهٔ ذريعه رزق ميلاويږي، چا ته پهٔ محنت مزدورۍ ميلاويږي، د چا رزق يې پهٔ نوکرۍ کښې ليکلے دے۔
بالکل هم داسې زمونږ د پاره د الله پاک رحمت کافي دے، د الله پاک مدد کافي دے خو دا مدد ❁ کله د کعبے نه ميلاويږي ❁ کله د بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه عطا کيږي ❁ کله د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دروازے نه ميلاويږي ❁ کله د داتا حضور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دربار نه ميلاويږي ❁ کله د خواجه اجمير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د درِ دولت نه نصيب کيږي۔ لهٰذا دا بالکل صحيح دي چې زمونږ د پاره الله کافي دے خو د دې سره سره يا رسولَ الله! مدد! وئيل، يا غوث! المدد! وئيل هم بالکل صحيح دي ځکه چې د الله پاک رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کوم مدد فرمائي، غوثِ پاک

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کوم مدد فرمائي، هغه هم پهٔ حقيقت کښې د الله پاک مدد دے، د غير الله مدد نه دے۔ الله پاک فرمائي:

فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِیْۤ اَیَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَ بِالْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۶۲﴾

(پاره:10، الانفال:62)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو بے شکه الله تاسو لره کافي دے، هُم هغهٔ دے چا چې د خپل مدد او د مسلمانانو پهٔ ذريعه ستاسو تائيد وکړو۔

معلومه شوه چې زمونږ د پاره الله پاک کافي دے، څنګه کافي دے؟ داسې چې کله هغهٔ زمونږ سره خپل خاص مدد کوي، زمونږ د پاره غيبي اسباب پيدا کوي او کله داسې کافي کيږي چې څوک نيک مؤمن زمونږه مددګار جوړوي۔ لهٰذا که الله پاک زمونږ د پاره غيبي اسباب پيدا کړي، نو بيا هم الله پاک زمونږ د پاره کافي دے او که رَبِّ کريم غوث او خواجه، داتا حضور او اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم وغيره اوليائے کرام زمونږه مددګار جوړ کړي، نو بيا هم زمونږ د پاره هم الله کافي دے۔ زمونږ خو د رَبّ مدد پکار دے، که هغه غيبي ميلاويږي که د نبيانو، وليانو پهٔ ذريعه ميلاويږي، هر قِسمه مو قبول دے۔

اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنَّت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:

وہی ربّ ہے جس نے تجھ کو ہمہ تن کرم بنایا | ہمیں بھیک مانگنے کو تِرا آستاں بتایا

تجھے حمد ہے خدایا[1]

**وضاحت:** اے خوږه آقا او مولیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زمونږه پروردګار خو بس هم هغه يواځے رَبُّ العَالَمِين دے کوم چې تاسو د سر نه واخله تر ښپو مبارکو پورې کرم او تول تن بخښنه او عطا جوړه کړې يئ او دې وَحدَه لَا شَرِيک مونږ ته ❀ د کرم د خيرات ❀ د ګناهونو د بخښنې ❀ او د شفاعت د خير غوښتو د پاره ستاسو د بارګاه لاره ښودلې ده۔ او تاسو ته يې دا شان عطا کړے دے چې د دواړو جهانونو خزانې

1 ... شجره قادريه رضويه ضيائيه عطاريه، صفحه:27۔

یې درته عطا کړي دي او ارشاد یې فرمائیلے دے: وَ اَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ (پاره: 30، سورۀ الضحیٰ: آیت: 10) ([مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او په هیڅ صورت هُم سوالګر مهٔ رټه) اے زمونږ د غریبانانو د پاره اسرې او ملاتړ پیدا کوونکیه رَبَّ! د حمد لائق هم بس صرف ستا ذات دے۔

## اخر د نبیانو، ولیانو نه یې ولې وغواړو؟

بعضې خلق دا پوښتنه کوي چې مونږ منو چې اولیائے کرام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم مددګار دي خو چې الله پاک پخپله اوري هم، زمونږه مدد هم کوي، نو بیا اخر مونږ د بندګانو نه ولې وغواړو؟ صرف هم د الله پاک نه مدد غواړئ۔

**ډیره اهمه پوښتنه ده،** ډیر د ښې عقیدې والا خلق هم د دې شیطاني وسوسې ښکار کیږي۔ **د دې جواب څهٔ دے؟** راځئ چې یو حدیثِ پاک واورو۔ **حدیثِ حَسَن دے** یعنې د سند په لحاظ سره په دې حدیثِ کښې کلام نشته، ډیرو زیاتو محدثینو دا حدیث مبارک ذکر کړے دے او ډیرو علمائے کرامو او محدثینو په دې حدیث مبارک باندې پخپله تجربه هم کړې ده، حدیث شریف څهٔ دے؟ واورئ!

د بدري صحابي حضرت عُتبَه بن غَزوَان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے: د الله پاک محبوب نبي، رسول هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چې کله په تاسو کښې د چا نه څهٔ څیز ورک شي او ځائے هم شاړ وي چرته چې څوک مددګار نه وي، په داسې حالت کښې که هغهٔ مدد غوښتل غواړي نو داسې دې ووائي: يَا عِبَادَ اللهِ أَغِيثُونِ، يَا عِبَادَ اللهِ أَغِيثُونِ اے د الله بندګانو! زما مدد وکړئ! اے د الله بندګانو! زما مدد وکړئ! (1)

اوس وګورئ چې دا تعلیم څوک ورکوي؟ ❀ زمونږه آقا، زمونږه هادي، زمونږه راهنما صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د دُنیا هغه هستي څوک چې د ټولو نه لوئې توحید پرست دے ❀ هغه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک چې د ټولو نه زیات د الله پاک پیژندونکے دے ❀ هغه آقا، احمد مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک چې د ټولو نه زیات د توحید تبلیغ کوونکے دے ❀ هغه هادي او راهنما صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته تعلیم راکوي چې که تاسو په څهٔ داسې ځائے کښې یئ چرته چې په ظاهره

---

1 ... معجم کبیر، جلد:7، صفحه:48، حدیث:13737۔

ځوک مددګار پهٔ نظر نه راځي، که پهٔ داسې ځائے کښې مدد پکار وي نو چا ته غږ وکړئ! د الله پاک بندګانو ته...!

غور وکړئ چې آيا محبوبِ ذيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته (مَعَاذَ الله!) معلومه نه وه چې الله پاک مددګار دے نو د هغهٔ نه دې مدد وغوښتے شي، هم هغوئي مونږ ته د الله پاک نه غوښتل ښودلي دي، يعنې کوم محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې مونږ ته د الله پاک نه غوښتل ښودلي دي، هم هٰغه محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ له ترغيب راکوي چې د الله پاک د بندګانو نه غواړئ! او بندګان هم هغه کوم چې پهٔ ظاهره پهٔ نظر نهٔ راځي، د سترګو نه پناه دي، لهٰذا د چا پهٔ تعليم چې د الله پاک نه غواړو، د هغوئي پهٔ ترغيب باندې مونږ د اوليائے کرامو رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم نه هم مدد غواړو۔

الله پاک دې مونږ ته د قرآن او سُنَّت مطابق د صحيح عقائدو او نظرياتو اختيارولو توفيق راعطا کړي، زمونږه رَبِّ کريم دې مونږ ته د مشکلاتو او پريشانو نه نجات راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د بيان خلاصه

د کلام خلاصه دا ده چې مونږه د الله پاک بندګان يو ❁ هغهٔ مونږ پهٔ خپل قدرت باندې پيدا کړي يو ❁ هم هغهٔ زمونږه پالنه کوي ❁ هم هغهٔ مونږ له رزق راکوي ❁ هم د هغهٔ پهٔ عطا باندې مونږه ژوندي يو ❁ مونږ چې څهٔ هم کوو ❁ څهٔ چې هم ګټو او خورو، هر څهٔ هم د هغهٔ پهٔ راعطا کړے شوي طاقت باندې دي، لهٰذا ❁ که څهٔ سختنه راشي ❁ پريشاني راشي ❁ مصيبت راشي ❁ چې څهٔ هم وشي، مونږ له پکار دي چې ❁ بدګماني نه کوو ❁ ځوک سپيرهٔ نه ګڼو ❁ د خپلو ناکامو وبال پهٔ توره پيشو باندې ❁ پهٔ چا نابينا باندې ❁ پهٔ ستورو وغيره باندې نه اچوو، بلکې د الله پاک پهٔ لور باندې مائله کيږو، هم د هٰغه رَبِّ رحمان پهٔ حضور کښې سر ښکته کوو، پهٔ هغهٔ باندې يقين کوو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د الله پاک مدد او نصرت به حاصليږي او مونږ ته به د هرې سختې او پريشانۍ نه نجات حاصليږي۔ الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** ځان د بد ګمانۍ پهٔ شان د نحوست نه د بچ کولو، د تَوَکُّل پهٔ شان د عظيم نعمت حاصلولو، پهٔ هر قِسمه حالاتو کښې د الله پاک پهٔ ذات باندې د يقين کولو د جذبے موندلو د پاره د دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ، پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم عملي طور برخه واخلئ، **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!** د دُنيا او د آخرت بے شميره برکتونه به در نصيب شي، پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **علاقائي دوره** هم ده۔

❁ **د حديثِ پاک خلاصه ده:** پهٔ کومه ښپه باندې چې د الله پاک پهٔ لاره کښې دوړه پريوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کيږي [1] ❁ د نيکۍ د دعوت ورکولو، د ګناه نه د منع کولو د پاره د کور نه وتل هم د الله پاک پهٔ لار کښې وتل دي ❁ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکۍ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به تللو او د نيکۍ دعوت به يې ورکولو۔ د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې ښکلي ادا د ادا کولو کوشش کوي ❁ کور کور، دُکان دُکان ته د تللو سره د نيکۍ دعوت ورکولے شي ❁ خلقو ته جومات ته د راتللو دعوت ورکولے شي ❁ د نمونځونو ترغيب ورکولے شي ❁ مونږ دې ته علاقائي دوره وايو۔ **تاسو هم د عاشقانِ رسول سره پهٔ شريکه علاقائي دوره کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!** ❁ د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام پهٔ سُنَّت باندې به مو د عمل کولو سعادت نصيب کيږي ❁ د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب به مو کيږي ❁ د حديثِ پاک مطابق د نيکۍ لار ښودونکے د نيکۍ کوونکي پهٔ شان دے [2] ❁ که زمونږ د نيکۍ پهٔ دعوت يو کَس هم نيک نمونځ ګزاره جوړ شو نو يقين وکړئ چې مزې به مو شي۔

راځئ د ترغيب د پاره تاسو ته يو مَدَني سپرلے بيانووم۔

## د جومات پهٔ لور روان شو

د عاشقانِ رسول يوه مَدَني قافله د دريو ورځو د پاره د سندھ ټنډو آدم ښار ته ورسيدله، پهٔ کومه کښې چې د اوريدو او وئيلو د صلاحيت نه محرومه اِسلامي

---

1 ... مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356۔

2 ... ترمذی، صفحه:628، حديث:2670 ملتقطاً۔

ورونه هم شامل وو۔ د مازديګر نه نمونځ نه پس د مَدَني قافلے د عاشقانِ رسول سره پۀ شريکه د علاقائی دوره برائے نیکی دعوت ورکولو د پاره د جومات سره نزدې د کرکټ يو ميدان ته لاړل، د مَدَني قافلے يو عمومي اِسلامي ورور هلته کښې موجودو ځلمو ته ووئيل چې زمونږ سره د اوريدو او وئيلو د صلاحيت نه محرومه اِسلامي ورونه هم دي، دوئي به تاسو ته پۀ اِشارو کښې د نيکۍ دعوت درکوي۔ بيا ړندو او چاړاګانو اِسلامي ورونو پۀ اِشارو د نيکۍ دعوت وړاندې کړو او هلته يې موجودو ګسانو ته جومات ته د تللو ووئيل۔ عمومي اِسلامي ورور هم داسې ترغيب ورکړو چې دا اِسلامي ورونه د وئيلو او اوريدو د قوت نه د محرومه کيدو باوجود د نيکۍ د دعوت د پاره راوتلي دي، الله پاک مونږ ته دا نعمتونه راعطا کړي دي که چرې مونږ د دوئي پۀ دعوت باندې جومات ته لاړ شو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دوئي زړونه به خوشحاله شي۔ دا يې چې واوريدل نو هٰغه کرکټ کوونکو ځلمو سرونه ټيټ کړل او د مبلغ سره د جومات پۀ لور روان شول۔

| | |
|---|---|
| تِرا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| تُو آ بے نمازی، ہے دیتا نمازی | خدا کرم سے بنا دینی ماحول |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نمونځونو د وختونو (Prayer Times) د ايپ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! دعوتِ اِسلامي د جديد ذريعو پۀ ذريعه هم د قرآن او سُنَّت پۀ خدمت کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن د نمونځونو د وختونو ***( Prayer Times)*** پۀ نوم جاري کړے دے ❀ د دې ايپلي کيشن پۀ ذريعه پۀ ټوله دنيا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلوميدے شي ❀ د جَمعي پۀ وخت د موبائل آټو سائلنټ کولو آپشن هم موجود دے ❀ د دې نه علاوه د قرآن پاک د عربی متن او د ترجمے او تفسير سره د لوستلو او اوريدو سهولت موجود دے ❀ اذکار (روحاني علاج) هم ورکړے شوي دي ❀ د کاؤنټر تسبيح پۀ ذريعه تاسو خپل روزانه اوراد لوستلے شئ ❀ د دې ايپلي کيشن پۀ ذريعه تاسو ريډيو مَدَني چينل اوريدے شئ ❀ د نمونځ اذکار هم د تجويد سره شامل کړے شوي دي ❀ د عيسوي او اِسلامي کليندړ (***Calendar***) سهولت هم موجود دے۔ ❀ د دې نه علاوه تاسو د دې ايپلي

کيشن ډيش بورډ (**Dashboard**) پهٔ 2 کلر تهيم کښې هم استعمالولے شئ۔ پهٔ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ **امير اهلِسُنَّت** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **پهٔ مَدَني چينل لائيو** **هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نمانځه نه پس پهٔ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، امير اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د نمونځ نه توجُّه اړوونکې څيزونه** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (**Share**) کړي!

❁ د مور پلار د مقام نه د خان خبرولو د پاره مکتبة المدينه يو کتاب پهٔ نوم د **ماں باپ کا مقام** چاپ کړے دے۔ دا کتاب تاسو پهٔ **75 روپے** د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پهٔ بيعه واخلئ۔ ❁ پهٔ قرآن، حديث، عقائدو، تصوف او فقه کښې مهارت لرونکي د عظيم عالِم، اِمامِ اهلِسُنَّت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د سيرت پهٔ مختلفو اړخونو باندې ليکلے شوے کتاب **فيضانِ اِمامِ اهلِسُنَّت** دا کتاب هم د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پهٔ **415 روپے** پهٔ بيعه واخلئ۔ دا کتابونه پخپله هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پهٔ اخره کښې د وَنو نالولو پهٔ بابله يو څو مَدَني ګلونه وړاندې کووم۔

## وَنې نالې کړئ! ثواب وګټئ!

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک: (1):** چا چې يوه وَنه نالې کړه او د هغې يې حفاظت وکړو او پهٔ خسمانه کولو باندې يې صبر وکړو تر دې پورې چې هغه ميوه ونيسي نو د هغې نه پهٔ خوړونکې د ميوې پهٔ هره [دانه] باندې د

الله پاک پهٔ نزد د هٰغه (نالوونکي) د پاره صدقه ده۔ [1] **(2):** کوم مسلمان چې وَنه ناله کړي يا فصل وکري بيا چې د هغې نه څهٔ مرغۍ، انسان يا ځناور خوري نو دا به د هغهٔ د طرف نه صدقه وي۔ [2]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** وَنې نالول د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت او د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم مبارک عمل دے ❀ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د پاره تقريباً د کجورو 300 وَنې پهٔ خپلو مبارکو لاسونو باندې نالې کړې وې [3] ❀ پهٔ دې وَنو کښې يوه وَنه د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم ناله کړې وه [4] ❀ حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به هم وَنې نالولې [5] ❀ حضرت امير معاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم پهٔ خپل اخري عمر کښې د کر کيلې کار شروع کړے وو۔ [6]

**پهٔ تفسير کبير کښې دي:** د نهرونو کنستلو او د وَنو نالولو پهٔ وجه به د فارس (ايران) د بادشاهانو عمرونه زيات وو۔ [7]

**د وَنو فائدې:** ❀ وَنې بوټي کاربن ډائي آکسائيډ (***Carbon dioxide***) اخلي ❀ آکسيجن ورکوي ❀ فضائي آلودګي کموي ❀ ماحول يخوي او ښه کوي ❀ د لينډ سلائيډنګ (يعنې د خاورې يا ګټانو د راخوئيدو) نه بچ کوي ❀ او د ګلوبل وارمِنګ (***Global Warming***) د دنيا پهٔ زياتيدونکي درجه حرارت) کښې د کمي سبب جوړيږي۔ [8]

**د وَنو نالولو احتياطونه: خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ ته بوټي نالول هم دي، دا وَنې جوړول هم دي، لهٰذا ❀ د بوټي نالولو نه پس دې له باقاعده اوبه ورکوئ! ❀ د دې د صفايي ❀ کټ کولو تراشلو خصوصي خيال ساتئ! ❀ پهٔ عامو لارو کښې چرته چې خلقو ته پهٔ تللو کښې تکليف وي ❀ چرته چې قانوناً بوټي نالول منع وي ❀

---

1…مسند احمد، جلد:6، صفحه:701، حديث:17037۔

2…مسلم، کتاب المساقاۃ، باب فضل الغرس و الزرع، صفحه:604، حديث:1553۔

3… دلائل النبوۃ، باب ماظهر فی النخل التی غرسها النبی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم …الخ، جلد:6، صفحه:97 بتصرف۔

4…دلائل النبوۃ، باب ماظهر فی النخل التی غرسها النبی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم …الخ، جلد:6، صفحه:97۔

5…اِبنِ ماجه، کتاب الادب، باب فضل التسبيح، صفحه:610، حديث:3807 ماخوذاً۔

6…تفسير کبير، پاره:12، هود، زيرِ آيت:61، جلد:6، صفحه:367، 368۔

7…تفسير کبير، پاره:12، هود، زيرِ آيت:61، جلد:6، صفحه:367 بتصرف۔

8…درخت لگائیے ثواب کمائیے، صفحه:7 ملخصاً۔

او د چا پهٔ ذاتي ملکيت کښې بوټے مهٔ نالوئ! ❁ که چرې د چا د پاره بهر بوټے نالول ممکن نه وي نو هغهٔ دې پهٔ خپل کور کښې پهٔ ګملو کښې واړه واړه بوټي نال کړي۔ (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ!** دعوتِ اِسلامي هر کال د اګست پهٔ مياشت کښې د خوږ وطن پاکستان شين جوړولو د پاره وَنې نالوي، د دعوتِ اِسلامي پهٔ دې مقصد **بوټے نالول دي وَنه جوړول دي** کښې تاسو هم شامل شئ او د شرعي احتياطونو سره کم از کم يو بوټے نال کړئ او د هغې د وَنې جوړولو کوشش وکړئ۔

د بوټو نالولو د نورو فضائلو، فائدو او احتياطونو نه د ځان خبرولو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډيره ښکلې رساله **درخت لگائیے ثواب کمائیے** د مکتبة المدينه نه حاصله کړئ يا يې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ نه ډاؤن لوډ کړئ۔ دا رساله پخپله هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او پهٔ سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره باندې يې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره د نورو سره هم شئير (**Share**) کړئ!

| | |
|---|---|
| آؤ لوگو! سب مل کر اِک شجر لگاتے ہیں | سر پہ ٹھنڈی چھت والا ایک گھر بناتے ہیں |
| گرمیوں کی چھاؤں ہیں ، سردیوں کا ایندھن ہیں | کون کہتا ہے یہ پیڑ پھل نہیں بناتے ہیں؟ |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهار شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سُنّتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| غم کے بادَل چھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو |
| ربّ کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | باب رَحمت کھلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

1 ... درخت لگائیے ثواب کمائیے، صفحه:15137 ملتقطاً۔